# SMITTSKYDDSBLAD

## Patientinformation

Latent tuberkulos när behandling ges

Översatt till pashto

Version 2022-04-11

# پټ نرى رنځ، د ناروغ لپاره معلومات

**کله چې د مخنيوي درملنه ورکول کيږي. د انتان نه د خوندي پاتې کيدو لپاره د ډاکټرانو معلوماتی پاڼه**

**نرى رنځ څرنګه سرايت کوي؟**

هغه ناروغ چې په سږو کې يې د نري رنځ مکروب پاتې وي، که چيرې په يو بند ځاې کې وټوخيږي نو کيداې شي چې دا انتان نورو ته سرايت وکړي. د نورو اعضاو نرى رنځ يا پټ نرى رنځ نورو ته سرايت نه کوي. دا يوه غير عادى خبره ده چې ماشومان له بلوغ وړاندې د سرايت لامل شي. د سرايت خطر هغه مهال نور هم ډيريږي چې له نري رنځ ناروغ سره په يو کوټه کې تر ډيره وخته ناسته وشي د بېلګې په توګه د هغو شيان استعمال کړل شي.

**پټ نرى رنځ څه شى دى؟**

هر هغه کس چې سرايت ورته ورسيږي په نري رنځ نه اخته کيږي. د ډېرو خلکو د وجود قوې مدافعه کولی شي چې ددې باکټريا د خپريدو مخه ونيسي. امکان لري چې دا باکټريا په وجود کې پاتې وي خو فعال حالت ونلري. دې حالت ته **پټ نرى رنځ** ويل کيږي.

**پټ نرى رنځ ناروغي نه ده**

د وينې معاينې (IGRA ټيسټ) يا د پوستکي معاينې (ټيوبرکولين ټيسټ) وروسته چې کله تاسې ته وويل شوي چې تاسو پټ نرى رنځ لرئ چې د ناروغيو هيڅ ډول علايم پکې نشته چې د نري رنځ لامل شی. نو تاسې نشئ کولئ چې دا باکټريا بل چا ته ساري کړئ.

که څه هم ستاسې په راروان ژوند کې په نري رنځ د اخته کيدو امکانات شتون لري خو خطر يې کم دی.

**په ځينو مواردو کې د مخنيوي درملنه پيليږي**

ځيني هغه خلک چې په راروان ژوند کې ورته ددې خطر ډېر وي چې ګواکې په دې نوموړې ناروغۍ به اخته شي، نو دا رنګه کسانو ته د مخنيوي درملنه پيليدی شي. په لومړي لاس کې دا هغه کسان کيداې شي لکه حامله ښځې او وروسته له حمل څخه، ماشومانو او ځوانانو او په ضمن کې هغه کسان چې د وجود دفاعي قوه يې کمزورې وي لکه هغه ناروغان چې د سرطان د تداوۍ لاندې وي، هغه ناروغان چې د انسولينو د تداوۍ لاندې وي، د شکر او يا هم هغه کسان چې د ګردو په سخته ناروغۍ اخته وي. سربېره له دې د مخنيوي درملنه هغه کسانو ته هم پيليدی شي چې تازه د نري رنځ به عفونت اخته شوي وي.

**تاسې ته د مخنيوي د درملنې توصيه کيږي**

تاسې پټ نرى رنځ لرئ او ستاسې ډاکټر د مخنيوي په موخه تاسې ته تداوي توصيه کوي. دا ددې لپاره چې په راوران وخت کې ستاسې په نري رنځ د اخته کيدو خطر کم کړي.

که چيرې تاسې په راوان وخت کې په اوږد مهاله ټوخي (چې له 3 اونيو اوږد شي) اخته شئ، شپې له اړخه خوله کوله شئ، تبه يا په نه غوښتونکي حالت کې د وزن کيميدو سره مخ شئ نو خپل ډاکټر سره اړيکه ونيسئ تر څو د نري رنځ معاينات مو ترسره کړي.

**د اړيکو معلومات (د اړيکو معلومات)**

د صحى مرکز نوم *(Namn på mottagningen)*

…………………………………………………………………………

تاسې له لانديني ډاکټر سره وليدل *(Du har träffat)*

*(Läkare)* ډاکټر ……………………………………………………………..………

*(Sjuksköterska)* نرسه………………………………………………………………………

د ټيليفون شميره/صحى مرکز کې د ټيليفون وخت *(Telefonnummer/telefontid till mottagningen)*

…………………………………..……………………………………………

SMITTSKYDD SKÅNE
040–33 71 80